د رحمان بابا غزلې ساده رواني او د ولسي محاورې سره اړخ لګوي چې د فن له لحاظه کوم احساس لري هغه د غزل د فني مقابلې یو اثر ښکاري لکه چې وایي:

د رحمان وینـــا به هلـــه در په یاد شي
چې دې یو دېوال ته مخ بل ته دې شا شي

عبدالرحمن مومند

د دې دورې  یو بل ځلانده ستوری حمید مومند و، حمید مومند په پښتو ادب کې د یو ادبي مکتب ځانګړي سبک خاوند دی په دې سبک کې د عشق نازکخیالي موشګافي همدارنګه د نایابو تشبیهاتو ، استعارو ، کنایو او مبالغو ډېر درسونه ویل کیږي.

دا چې حمید مومند د هندي سبک پیرو دی د دې سبک زیاتره غزلې د مینې محبت په محور څرخي ، خکه چې نورو موضوعاتو ته یې د انتقاد په سترګه وکتل لکه چې وایي :

ډېرو زهد ته حمید راکیښ شېـخـانو
چې داخل په دا قطار کې نه وه نه شــو
ملایانو څخــه درس کړ مینـــې پاتې
د شېخانو په شېخۍ کې څه بود نشته

حمید مومند د پښتو ادب په هغه سرمشرانو کې راځي چې د چا له برکته پښتو غزل د اسماني سندرو شان وموند . په دغه دوره کې لس ګونه غزل ویونکي شاعران پیداشول او په لس ګونه د غزلو دېوانونه ترتیب شول او په پښتو ادب کې د غزلو پانګه پیدا شوه ، د دغې دورې د غزل شاعران کاظم خان شیدا او پیرمحمد کاکړ دي چې همدوی غزل د معیار لوړې څوکې ته ورسوه .

تر شیدا او کاکړ راوروسته د دیارلسمي پېړۍ له پیل سره پښتو غزل د خپل قوت نه رالوېږي په دغه وخت کې شاعران مثنوي ، فولکلوري فورمونو کیسې او نظمونو ته مخه کړه او له دې سره یې پښتو غزل ته شا شوه .

شاعرانو کله کله غزل ته هم هڅه کړې ده ،خو هغسې خوند او قوت به یې نه درلود لکه د زرینې دورې د شاعرانو په غزلو کې چې موجود وه .

د شلمې پېړۍ په راتګ سره د پښتو شاعرۍ په لړه او بره پښتونخوا کې خپله بڼه بېخي بدله کړه ، د شعر مضمون نوی شو او په عام ډول د پښتو شعر د هنریت او شعر برخه د ازادۍ او خپلواکۍ تر نوي او پارونکي مضمون قربان کړه او په شعر کې د هنر اړخ له نظره ولوېد ، په پښتو شعر کې د دغه مضمون تر زیاتېدو وروسته ورو ورو په شعر کې د هنر غوټۍ را پورته کېدلې او د هنر د نوي مضمون هڅه پیل شوه چې د پښتو غزل حمزه باباشینواري میدان ته راودانګل چې په راتګ یې نوی غزل پیل شو .

لا ښو په سیمه د پښتـــون به نور ګلان وکرم
حمزه شباب د تخیل مې که اجـــل پر ېښوده

که تغزل اوس د حمـــزه په تفکـــر شـــو بدل
ولې په دې مه کړه یقین چې یې غزل پر ېښوده

اروابښاد حمزه شینواری

## په شعري فورمونو کې د غزل اهمیت

غزل د ادبیاتو په زړه پورې صنف دی چې په هره ژبه کې بې شمېره مینه وال او لوستونکي لري او په ادبي صنفونو کې یې لوړ مقام خپل کړی ، دا چې ولې غزل دومره مقبولیت تر لاسه کړی ؟دا په خپله ددې خبرې مزی په لاس راکوي چې غزل کې څه دي؟ او ددې لوړمقام تر شا کوم عناصر پراته دي ؟

مونږ وايو چې شعر خپل ارزښت له ښکلا څخه اخلي ،نو تر ډېره حده دغه ښکلا په غزل کې موجوده ده .

له بله پلوه ښاغلی صديق روهي هم وايي چې ((شعر د تخيل او عاطفې بچی دی که ددې څخه يو هم و نلري نو شعر يتيم دی)) ،نو که وګورو د غزل پوره مانا په دغو توکونو سمبال دی.

که څه هم په شعري فورمونو کې هر ژانر بېل بېل کيفيت لري ،خو غزل بيا دغه کيفيت ته لا خوند او رنګ ورکړی ، په همدې اساس د پښتو په شمول په نورو ژبو او ادبياتولکه عربي ، دري او اردو کې غزل ته تر نورو فورمونو زيات ارزښت او لومړيتوب ورکړل شوی ، دا هغه نازک ، لطيف او تنکی ژانر دی چې د ادبياتو په هره دوره کې خپل محبوبيت ښکاره کړي .

د غزل لپاره تخيلاتي رنګ ا وداخليت ډېر مهم دی ،ځکه خو په زړونو کې دومره ځای لري ، ويل کيږي چې د غزل د تغزل روح دی لکه څنګه چې بغير له روحه جسم تش کالبوت دی همداسې بغير له تغزل غزل هم بې روحه دی ، نو د غزل د مقبوليت يوه وجه تغزل دی چې زړونو ته تسکين ورکوي ، بل مونږ وايو چې عشق د شاعرۍ لپاره لازم او بنيادي محرک دی ، نړۍ وال تاريخ پوه ابن خلدون هم په دې نظر و چې د شاعرۍ لپاره عشف تر هرڅه زيات ضروري دی ، رحمان بابا وايي:

دا دستور دی چې له درده زګېروی خيژي

ګنې څــــه وه د رحمـــان له شاعرۍ

نو که وګورو غزل دغه جذبه په څو رنګونو کې وړاندې کړې او د هرې موضوع بار دې فورم په خپلو اوږو پورته کړی ، له همدې امله په شعري فورمونو کې غزل ته د

لومړیتوب  مقام ورکړل شوی او په هره ژبه کې شاعرانو د نورو فورمونو په پرتله په غزل کې ډېر کار کړی او دا ژانر یې د خپل ادب تهداب او بنسټ ګڼلی وي.